
چمتو والي کچه

# بوخت میږي



**لیکوال:** کنچن بنیرجي
**انځورګر:** ډيپا بلساور

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



سلام، زه په کتار کې څلورم یم. آیا تا ته ښکارم؟




کيڼ، ښی، کيڼ، ښی. مونږ په خاموشۍ سره په کتار کې ځو.




ذهن ته مې همدا اوس يو فکر راغی. زه به د
څرخونو (پايو) يوه دسته واخلم چې چټک حرکت
وکړم!



مونږ د نورو ژوو په څېر شور ماشور نه کوو. زمونږ ژبه د بویولو (استشمام) ژبه ده.



یو ډول بوی وايي، ”د مېلمستیا خوړولو
لپاره په ما پسې دې خوا ته راشه. “



بل بوی وایي، ”خطر دی! دلته مه راځه.“




کټ مټ ستاسې په څېر زما کېکونه او هر ډول خوږې خوښېږي.



غواړې چې د کار په وخت کې زما مټې وګورې؟ زه ښايي تا ته ډېر کوچنی ښکاره شم، خو زه ډېر قوي يم.



که دروازه بنده وي، هیڅ چرت مې نه خرابیږي.
زه له تر ټولو کوچنیو سوریو څخه هم تیرېدلای شم.




باور به وکړې که نه، مونږ په سلګونه شمېر کې په یوه مېنه کې اوسېږو.

**راځئ چې ځينې نوې کلمې زده کړو.**

**کوچنی–غټ**
**سست-چټک**
**لنډ -لوړ**
**نرى-چاغ**
**سخت-نرم**
**شور کونکی-غلی**

دلته ځنې کلمې د هغوی مخالفو ماناګانو سره ورکړل شوې دي. آیا ته د کلمو د هرې جوړې لپاره یوه جمله جوړولای شې؟ د بېلګې په ډول، ’یو مېږی کوچنی دی؛ یو فیل غټ دی‘. ”د مېږي په څېر بوخت“ د داسې یو کس د تعریفولو یوه ښه طریقه ده چې سخت زیاکښه وي.



**لاربښودونکې پوښتنې**

1. آیا تاسې کله مېږي لیدلي چې کار کوي؟ تاسې څه شی مشاهده کړی؟
2. د مېږیانو ځینې ځانګړنې کومې دي؟
3. مېږیان څه شی خوښوي؟ مېږیان څه شی نه خوښوي؟
4. مېږیان چېرته اوسېږي؟
5. آیا تاسې غواړئ چې د مېږیانو ژوند تجربه کړئ؟ ولې؟ ولې نه؟